آصف بهاند ۲۰۱۶/۱۲/۲۳

# لارورکي لارويان

## څلورمه برخه

### سپيو ته ميلمستيا:

زما پلـرني کور د کابل په اوومه ناحيه، شوروي سفارت ته ور ځيرمه، د دهمرادخان په کلي کې موقعيت درلود، د جګړې له لړ غلي کيدو سره زما کشرى ورور احمد شاه بهاند له هغه ځايه زموږ د خبر اخستلو له پاره، زما کور دهبوري ته راغی، څو شيبې سره ناست وو او د جګړه مارو د وحشت کيسې مو سره کولې. وروسته ما و ويل: ته دلته کينه، زه به يو وار کارتې پروان ته د خپلو خُسر خيلو د خبر اخستلو له پاره ولاړشم، ده ويل:
څه اوس خو ډېر نه شته، زه به هم درسره ولاړ شم.

په بايسکلونو مو پښې واړولې او د سيلو د شا له لارې نه په استفادې سره مخامخ د کارتې پروان دويمې برخې ته ور ښکته شوو. د هغوی د خيريت له خبريدونه وروسته بيا د دهبوري په نيت وخوځيدو. دا وار موږ جرأت وکړ او له پوليتخنيک نه تر ميرويس ميدانه پر غځيدلي واټ باندې مو د تګ تکل وکړ. موږ په دې نه پوهيدو چې دا هغه اشتباه ده چې کيدای شي زموږ د سر په بيه تمامه شي. خير را وخوځيدو. سيلو ته په رسيدو سره مو زوروونکی خوسا بوی احساس کړ. لږ وړاندې مو د واټ په شا و خوا کې مړي وليدل. ما مې ورور ته و ويل:
هلکه! په دا بل سرک به د پوهنتون پر خوا ور تاو شوو.

ده ويل:

څوک خو نه شته درڅه چې وړاندې څه پيښ شوي دي.
بس زړه نا زړه ور روان شوو. لږ وړاندې، ميرويس ميدان ته نا رسيده مې د لومړي ځل له پاره وليدل چې سپيوو مړي خوړل. موږ له ډار او خواشينې سره په لمدو سترګو د دې صحنې ننداره کوله، سپيوو کله موږ ته کتل او کله يې د سياف جان؟ او مزاري جان؟ د ترتيب کړې ميلمستيا له د سترخوان نه مړی کولې؛ خو د سپيوو کتلو موږ ته يو پيغام را ليږه او موږ ته يې دا مطلب را پوهاوه:

دا څو توري د سپيو له خوا انسانانو ته هغه مسيژ دی ـ چې د ځينو انسانانو د اعمالو په وجه ـ د انسانيت پر لمن د تور داغ حيثيت لري:

**«له تاسي انسانانو نه موږ سپي ښه يو، موږ خپل همنوع نه وژنو، نازوو يې؛ دا ستاسو همنوع دی، تاسو وژلي!**
**وژل د تاسو خوړل زموږ.**
**ليوان هم په لويه پښه کې موږ سره ګډيږي، تاسو انسانان چې ليوانو ته داړونکي وايئ، نا سمه خبره ده. سمه يې داسې ده چې تاسو انسانان له ليوانو نه هم داړونکي او وژونکي ياستئ.**
**ليوان هم داړل کوي؛ خو د انسانانو او ليوانو په منځ کې توپير دا دی چې ليوان خپل هم جنس باندې حمله نه کوي، وژني يې نه؛**
**مګر انسانان د خپلو ورونو له زورولو او وژلو خوند اخلي.**
**انسانان ليوه ته ويني تويونکی او ظالم وايي او د ټولو ګناهونو بار او تهمت په ليوه ور اچوي؛**
**خو انسانانو داسې کارونه کړي او کوي يې چې ليوان ور باندې شرميږي.**
**انسانان يو پر بل څومره ظلم کوي، مګر نوم بدي ليوان دي.**
**ليوان د ناموس مسألې ته په درنه سترګه ګوري او هيڅ کله يو د بل خور، لور او ميرمنې ته په بده سترګه نه ګوري؛ دا انسانان دي چې دغه نا وړه عمل تر سره کوي.**
**د همدغو دلايلو پر بنا موږ سپيان وايو چې:**
**ښه ده چې موږ سپي او ليوان يو، نه انسانان...»**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د بویونو د ځپو په منځ کې له یو عالم غمونو او ډار سره، میرویس میدان ته ورننږدې شوو. د میرویس میدان ځلی د سیاف جان؟ او مزاري جان؟ دجنګیالیو تر منځ د برید کرښه وه. له ځلي غربي لوري ته یو تن د پښو پر سر ناست و او ټوپک یې داسې په غېږ کې ټینګ نیولی و، لکه خپل زوی یې چې وي. موږ ته یې هیڅ و نه ویل. موږ د میرویس میدان د تیلو پر ټانک را تاوشوو. هیڅوک نه لیدل کېدل، د کبابي هراتي نومي رستورانت مخې ته ورسیدو، د کافي ټولې کړکۍ او شیشې ماتې وې، موږ ویل څه څوک نه شته؛ خو ناڅاپه د کافي له منځه غږ وشو:

«صبر کوا!»

له کبابي هراتي نه یو تن را ووت، د وحدت، د ګوند جنګیالی و او زموږ پلټنه یې وکړه، د پلټنې په ترڅ کې یې و پوښتلو:

«کیستي، کجا موري، قوم تو چییه؟»

او فرعي سرک ته د تللو امر یې وکړ. ده غوښتل موږه هم د سپیو خوراک کړي، ما او احمدشاه جان په سترګو کې خدای پاماني سره وکړه؛ خو د کافي له منځه نا څاپه غږ وشو:

«صبر کوا!»

غړکونکی له کافي څخه د باندې را ووت، خیرن کالي، ببره ږیره، اوږدې څنې، په خاصه فلمي ادا زموږ مخې ته ودرید، احمدشاه جان یې مخاطب کړ، ویې پوښته:

«تو امو فلم بردار نیستي؟»

احمدشاه به کله، کله د خلکو د خوښۍ محفلونه فلم برداري کول، نو په پټ غاړه یې ورته و ویل: استم.
جنګیالي خپل ملګري ته و ویل:

«بانیشان که برن.»

په دې ډول خدای تعالی د مرګ له کومې را ویستلو.

زما کور چې د کبابي هراتي په دری سوه متری کې موقعیت درلود، ور وخوځیدو. د رحمان بابا د لیسې په مخ کې د سرک په منځ کې یو مړی پروت و. د تودې هوا له کبله مړی ډېر پړسیدلی و، یو برستن ډوله ځل یې پرې د پاسه اچولی و. د لیسې په مخ کې یو وحدتي ټوپکوال ولاړ و، د دې له پاره چې خپله قهرماني او غرور موږ ته وښيي، خپل ملګري ته یې و ویل:

«پرتو، یګ لیاف دګام سرې اوغان پرتو که خنک نه خوره.»

وروسته بیا خبر شوو چې دا مړ زلمی د میدان ښار د نرخ د صد مردې اوسیدونکی و چې د سیاف اتحاد اسلامي په لیکو کې جنګیده،او زما له دوست احمد تکل سره یې څه خپلوي هم درلوده.

د سیاف جان؟ او مزاري جان؟ تر منځ له دې ګونو جګړو څه وخت وروسته، کله چې د جګړې له عاملینونه پوښتنه وشوه چې د جګړې اصلي دلیل، سبب، انګیزه او نتیجه څه وه؟

دوی یې په ځواب کې و ویل:

«موږ په جګړه هیڅ خبر نه یو، ښایي کوم قومندان کړې وي.»

زما د کشري ورور احمدشاه بهاند سره په یوه ټولګي کې یو هزاره زلمي درس وایه. دی محمد علي نومیده. ده او احمد شاه د دوو ورونو غوندې یو د بل درناوی کاوه؛ خو له بده مرغه چې داسې وخت هم راغی چې د محمد علي سر د ایران پلوه حزب وحدت له ګریوانه څخه را ووت.

حزب وحدت، چې د کابل غربي سیمې یې په خپله ولکه کې ونیولې، محمدعلي هم په کې لوی سړی شو. د حزب وحدت یو غونډ په شوروي سفارت کې واړول، محمدعلي د دې غونډ رئیس ارکان و.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په دهبوري کې د استادانو کورونو ته مخامخ د موزیک لیسه پرته وه. دا لیسه هم د وحدتي ټوپکیانو په ولکه کې وه او څو تنه وحدتي ټوپکوال په کې پراته وو. دا د محمدعلي د خولي خبره ده چې په موزیک لیسه کې پرتو ټوپکوالو د جګړو په لړکې درې تنه پنجشیریان یرغمل نیولي وو. کله یې چې پوستې ته راوستل، نو خپل قومندان ته یې خبر ورکړ. قومندان صاحب؟ راغی، دوی ته یې ښکته پورته وکتل او طنز آمیزه سترګې مه شي یې ور سره وکړه، خپلو لاس لاندې کسانو ته یې وویل:

«اینا هم زبانای ماس، برشان خوب چای دم کنین که دم شان راس شوه.»

پنجشیري اسیرانوفکر وکړ چې رښتیا دوی مور سره د همژبتوب رګی پالي، نو دم په دم چایونه یې تر ستوني ښکته کول. په دې کې خبره تر درېو غټو نکلي چانکو واوښته. نو بیا یې وویل چې:

«دګه بس اس.»

بس اس نه و، د خدای غضب و چې پر دوی نازل شو. پیره دار قومندان ته غږ وکړ چې:
«قومندان صاحب چای خلاص شد.»

پنجشیریانو فکر وکړ چې اوس به دوی پریږدي چې ولاړ شي. خو قومندان څه وکړل؟ داسې څه یې وکړل چې د چنګیز جزاګاني ور ته تفریح ښکاریږي. امر یې وکړ چې د رجي تار راوړئ. تار حاضر کړای شو. قومندان صاحب؟ مهرباني وکړه او وې ویل:

د رجي په تار باندې یې تناسلي آلت ښه شخ وتړئ او بیا درې واړه د پړي په ذریعه په څاه کې سر ښکته کونه پورته وځړوئ.

دا و د یوه وحدتي ټوپکوال همژبتوب او رحم.

د کابل پوهنتون استادان او شاګردان خو لاڅه کوې، چې دیوالونو یې هم ژړل؛ څکه ټولو په رڼو سترګو کتل چې د وطن تحصیل کړې او ډیر زړه سواندي بچې هره ورځ په لمدو سترګو پوهنتون سره خدای په اماني کوي. هره ورځ به چې استادان او شاګردان پوهنتون ته راتلل، د پوهنتون له عمومي دروازې نیولې، تر ټولګې پورې به یې د ټوپکیانو ناولي څیرې، ببرې څنې او بې بندوباره حرکات لیدل. ټول په دې تمه وو چې نن به ښه شي سبا به ښه شي؛ خو مه دې سه.

ټوپکیانو ته هم د دومره خلکو تګ راتګ، د دوی له فکر او ذهن نه کاملا په بله بنه ډیر جالب و. یوه ورځ زه (لیکوال) د پوهنتون له جنوبي دروازې پوهنتون ته ننوتلم. ټوپکمار چې د کلي په هزارګي لهجه غږیده، ودرولم، را ته وې ویل:
«چسه موکوني، کجا موري؟»
ما ور ته و ویل:

زه استاد یم. سر یې ټیټ ونیو او ورو یې له ځان سره په هزارګي لهجه و ویل:
«چقیسي استاده، هر کدامشي میایه میګه مه استادوم.»

د رباني جان؟ د جمیعت، د مسعودجان؟ د شورای نظار او دمزاري جان؟ د وحدت تر منځ جګړې او تضادونه ورځ تر بلې ډیریدل. شاګردانو د پوهنتون د صنفونو دروازې او دیوالونه ښکل کړل، ځای پر ځای یې پریښودل او کورونو ته ولاړل. پاتې استادان شول.عاصي پوهیږي او دوزخ.

څنګه چې د ټولو استادانو راتګ د پوهنتون سیمې ته نا ممکن و، نو پوهنتون یې تش په نامه د ښار مرکز پل باغ عمومي ته ولیږداوه چې استادان هلته یوازې حاضري امضا کړي. هره ورځ به استادان راتلل، د زړه خواله به یې کوله، حاضریانې به یې امضا کولې او بیرته به په ډیرې مایوسۍ کورونو ته ستنیدل.

د کابل هیڅ ځای مصؤون نه و. ټول کابل د ټوپکیانو په لاس کې یرغمل و. هره کوڅه کې توري شپیلۍ غږیدې او د ټوپکیانو اتڼونه خرپنده روان وو. هره ورځ څه چې هره شیبه او د سترګو رپ کې د مرګ امکانات وو. ما به هره ورځ له دهبوري نه ده مرادخان ته منډې وهلې چې د پلار په کور کې مې څه پیښ شوي نه وي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

زموږ کلی د ګلبدین جان؟ د حزب اسلامي او د مزاري جان؟ د حزب وحدت تر منځ د برید کرښه وه. کله به دهمراد خان د مزاري جان؟ افرادو تر لاسه کړ او کله به بیا د ګلبدین جان؟ ږیرورو پرې را شیوه شول، خواره خواري د دهمرادخانیانو وه.
یوه ورځ چې د حزب اسلامي ږیرورو کلی لاندې کړ، نصیرنومی ځوان خام او بې تجربې زلمی و چې زموږ خپل کلیوال او د ګلبدین جان؟ یو وړوکی قومندان او ټوپکي و، د نورو وحدتیانو د وژلو تر څنګه یې یو تن وحدتي ټوپکوال چې ښایي په کې مشر و، څو ځایه سخت ټپي کړ، بیا یې خپلو افرادو او کلیوالو ته وویل چې څوک مرسته نه شي ور سره کولای. هغه نفر د ویني په ضایع کولو له منځه لاړ. په مقابل کې کله چې بیا وحدتیان برلاسي شول، نصیرخان لاړ په خپله مخه وتښتید، او وحدتیانوپه ځانګړي چنګیزي وحشت هر څه چې له لاسه وشول، ویې کړل او په پای کې یې د نصیرخان سپین سرې مور په لویه لارکې راځملوله او په خیټه یې خینجتي ورته وهلي.

یوه ورځ د ترخو ورځو مازدیګرو، زه هم په کلي کې وم چې د ګلبدین جان؟ تحفې د سکر شل په وزرونو د چهلستون او ریشخورو له خوا را ورسیدې. پر له پسې راکټونه د دهمرادخان په شاوخوا ولګیدل. زما په مخ کې زموږ د کلي شل کلن ځوان شاه آغا مخامخ په راکټ ولګید، خدای پوهیږي چې وجود یې څو ټوټې شو. د کلي خلکو د ګلبدین جان؟ په لاس د حلال شوي شاه آغا غوښې ټولې کړې او مخامخ یې هدیرې ته یوړې. د دې ځوان د وژل کیدو، د ده د کورنۍ او کلیوالو ګریوان شکولو او بدې ورځې په لیدلوسره ما هغه شیبه په دغو کلماتو او په دغه شعر انځور کړې ده:

## تا ته وایم!

ای!
ای!
تا ته وایم!
تا د جګړې توري بلا دوزخي خوله لیدلې؟
زه یې خوړلی یمه
زه یې چیچلی یمه
زه په کې تللی او راغلی
په څو ځلي یمه
«په دکن کې پاړونه شته چې مې دم کا
زه خوړلی اژدها توري بلا یم»
ای!
ای!
تا ته وایم!
تا د جګړې توري بلا دوزخي خوله لیدلې؟
تا د غوتیو په عمرو کله نظر کړی دی؟
ستا د ګلانو په ځوانۍ، کله زړه سوی راغلی؟
تا د تندیو لښتو، تاند ځوانیمرګی لیدلی؟
تا د ازغو د توکیدو شیبه زغملې کنه؟
ما به جبرو زغملي
ای!
ای!
تا ته وایم!
تا د جګړې توري بلا دوزخي خوله لیدلې؟
تا زموږ د کلي ځوانیمرګي ونې
ښکته په ځوړ لیدلې؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

تا زموږ د کلي
د کړکیو
دروازو
سکاره لیدلي کنه؟
زه په کي سوی یمه
ای!
ای!
تا ته وایم!
تا د جګړې تورې بلا دوزخي خوله لیدلې؟
تا ته وایم!
کله تا!
زموږ د کلي ځوانان
په داشکه باندې سوري لیدلي؟
تا شل کلن بدن غلبیل لیدلی؟
تا د سرو وینو
سل چینې لیدلي؟
تا ته وایم!
ستا سو د کلي نجونې
کله منګي پر اوږه
له خندا ډکه خولګی
ګودر ته تللي داسي
چي اوبه نه وي
وینې خاندي ورته
دوی منګی تش راوړي
ای!
ای!
تا ته وایم!
تا د جګړې تورې بلا دوزخي خوله لیدلې؟
تا د پاخه فصل ریبل په مردکو لیدلي؟
تا د بزګر تیاکي
د درمندونو
د لوخړو د ځپو له پاسه
کله لیدلي داسي
چي د لوګو پر وزرو
هسک ته روان وي
خدای ته عرض کوي
موږه عرضونه کړي
ای!
ای!
تا ته وایم!
تا د جګړې تورې بلا دوزخي خوله لیدلې؟

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وازخولی ګور به دې لیدلی نه وي؟
داسې چې ژبې لا ژوندي وي او ګورونه شکول کیږي ورته
موږه ژړلي ورته
اې!
اې!
تا ته وایم!
ودان کورونه دې لیدلي کنه؟
داسي چې سترګو رپ نه وروسته
کنډواله جوړه وي
ما يې ګردونو کې شيبې زغملي
اې!
اې!
تا ته وایم!
تا د جګړې تورې بلا دوزخي خوله لیدلې؟
تا ته وایم!
هوښیار سړی به دې لیدلی نه وي
داسې چې سا ایستلو وروسته لیونی وي روان
ما ته په مخه راغی
اې!
اې!
تا ته وایم!
تا د جګړې تورې بلا دوزخي خوله لیدلې؟
تا داسې تاندې
ځواني ځانګې
په سپرلو کله لیدلي دي چې
د سپرلي باد يې بیرته وچې کاندي
ما يې په تمه څه عمرونه تیرکړل
اې!
اې!
تا ته وایم!
تا د جګړې تورې بلا دوزخي خوله لیدلې؟
تا داسې ښار لیدلی؟
چې ټول ښاریان یې، رنځوران وي او روغتون نه لري
او،
په جهان کې پاړو نه وي چې يې دم کا
دوی خــوړلي یــوې ږیرې اژدهـا وي

۱۳۷۱/۰۵/۲۰

کابل
دهبوري


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ما د کلي پر خړ دیواله باندې د شاه آغا د وینو د خالونو او داغونو ننداره کوله او د کلیوالو د ماتم په انګار باندې کبابېدم، چې زما بل ورور حنیف جان، سره له دې چې تر ما کشر دی، ما ته په جدي او تهدید آمیزه لهجه و ویل: «ژر له کلي ووزه او ځان دې خپلو بچو ته ور ورسوه!»

د ګلبدین جان؟ جګړه له وحدتي ټوپکیانوسره وه او د راکټونو تحفې یې د هغو په نامه را لیږلې؛ خو زه په زغرده او پوره مسؤولیت سره وایم چې په هغه وخت کې په دهمرادخان کې نه د وحدتیانو کوم ټوپک مار موجود و او نه د وحدتیانو کومه قرارګاه.

«کابل یې وران کړ، وران یې مه وای
لاس دې یې مات شي چا چې ویشتي راکټونه»

د ځلورمې برخې پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ